# د خوست ولایت د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژی ریاست ( ۱۴۰۰ ) مالي کال دلومړی ربعې کاری راپور

**راپور ورکوونکی : انجنیرمحمدعارف احمدزی د خوست د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژجی رئیس**

**راپور اخیستونکی : د معلوماتي ټکنالوژۍ ساینس او مخابراتو وزارت محترم مقام**

---

## ترسره شوی وظیفوی فعالیتونو ډولونه :

د (۱۴۰۰) مالي کال په جریان کی د ولایت مقام په اداري او (PDC) په غونډو کې فعاله ګډون شوی خپلې ستونزی او حل لیار غونډو ته اورول شوي او پرمختګونه او بریاوې په غونډو کې تشریح شوی او د جلسو هدایات او لارښوونی خپلو کارمندانو ته رانقل شویدی -او په هره اونی کې یو ځل د مرکزي شعباتو دمدیریتون او په میاشت کې یو ځل د ولسوالیو د مخابراتو د مدیرانو سره د کرونا د مخنوی تدابیرو په پام کې نیولو سره غونډې جوړې شویدي البته دکرونا د خطر په دوره کې مو د حضوری غونډو څخه صرف نظر کړي دي .

د (۱۴۰۰) مالي کال په جریان کې یو ځلي د خپلو کارمندانو لپاره دمراجعینوسره د ښه سلوک او غوره مدیریت او په چارو کې د ټکنالوژۍ څخه د استفادي په اړه په کی لازم موضوعات طرح شویدی .

د کال په جریان کې په جریان کې ځینو ولسوالیو ته سفرونه شوي او د ولسوالیو د مخابراتو د مدیریتونو ستونزې په ګوته او ستونزي د امکان ترحده ورته حل شوي دي -مراجعینو سره لیدنی او کتنی شوي او ددوی ستونزو په لیری کولو کې ورسره همکاری شویده -او هغه ستونزې چه حل ئې په مونږ پوری ممکن نه وو د وزارت محترم مقام ته لیږل شویدی .

د (۱۴۰۰) مالي کال په جریان کې چې د پلان مطابق په میاشت کې یوځل د مخابراتي شرکتونو د مسئولینو اتړا نماینده، امنیتی او کشفي ارګانونو له استازو سره د پلان سره سم غونډې جوړی شوي الته هغه موده کې چې د کرونا د خپریدو ویره وه د حضوري غونډو څخه مو صرنظر کړی او په انلاین او وټس اپ ګروپ له لیاری مو ستونزو او مشکلاتو ته په خپل وخت رسیدګي کړې ده -په غونډو کې د خلکو د تیلیفونی ستونزو ، د کالمو په وخت کې د ټیلیفونونو د قطع او وصل ستونزې -په ښار کې د راجستر پرته سیم کارتونو د خرڅلاو د ستونزو په هکله خبری شوي او لازم تصامیم نیول شویدی او همدارنګه په هر میاشت کې یو ځل په ښار کي د کنترولي ګروپونو لخوا د تخلفاتو په هکله کنترول شویدی .

## د اداری مدیریت او بریښنایی حکومتولۍ په برخه کي :

د (۱۴۰۰) مالي کال د لومړی ربع په جریان کې ( ۳۰) قطعی مکتوبونه اداری مدیریت لخوا ولسوالیو د مخابراتو د مدیریتونو او نورو اړوندو ارګانونو ته لیږل شوی او ( ۳۴) قطعی مکتوبونه د مرکز او نورو ارګانونو لخوا راغلی چه په وخت او زمان سره اجرآت پری شویدی.

د (۱۴۰۰) مالي کال د لومړی ربع په جریان کی ( ۱ ) تن مامور د ازادی سیالی له لاری بریالی شوی او د استحدام اسناد یی خلاص شوی دی ، د همدی ریاست د دوو تشو بستونه اعلان ته سپارل شوی ، لانګ

لیسـتونه او اړونـد غوښـتنلیکونه یــې ترتیـب اصـلاحاتو اداری ریاسـت د نـورو اجراتـو لپـاره لیـږل شـوی دی او همدارنگه مربوطه ماموریتو او اجیرانو ته په وخت او زمان سره معاشات او نورو امتیازات حواله شوی .

**د IT مدیریت په برخه کې:**

د (۱۴۰۰) مالی کال د لومړی ربع کې د کمپیوتر د زده کړې د کورس د (۳۴) دورې ته (۱۸۰) تنو شخصی او دولتی کسانو نوم لیکنه کړې او زده کړې جریان لری .

همدارنگـه د تیـري ۳۱ او ۳۲ دوری شـاگردانو اسـناد د مرکـز څخـه رارسـیدلی او شـاگردانو تـه د شـاندارو مراسـمو پـه ترڅ کې توزیع شوي.
د کمپیـوټرد زده کـړی د ۳۳ دوری کـې د ۱۸۰ څخـه زیـات شـاگردان پـه زده کـړو بوخـت دی چـې لـدی جملـی څخـه یی ۹ تنه ښځینه زده کونکی دي
د کمپیوټر زده کړو لپاره دوه مجهز صنفونه چي یو یی د نارینه او بل یی دښځینه لپاره ځانگړی شی جوړ شول.
د زده کونکو لپاره تازه چپټرونه او ویډیو اماده کړای شوي
دمخـابراتو او معلومـاتي تکنـالوجي ریاسـت پـه مختلفـو سـاحو کـې امنیتـي کـامرو سـتونزی چـي لـه پخـوا موجـودي وی ستونزی یی لرلی تبدیلی او یا اصلاح شوي.
د کمپیـوټر د زده کـړو مرکـز،د مـالي چـارو د تنظـیم لپـاره ډیټـابیس جـوړ شـوی تـول معلومـات پـه بریښـنایی بڼـه پـه ډیټابیس کې ساتل او استفاده کیږي چې په چارو کې یی گړندیتوب او شفافیت رامنځ ته شوي.
د کمپیوټر د ښونیز مرکز لپاره لارښوودونه او پالیسي لیکل شوی او عملا پیاده شوی او استفاده تری کیږي.

**د پست مدیریت په برخه کي :**

د ایرو پارسل شرکت چې خصوصی شرکت دی او په خوست ولایت کې پستی خدمات عرضه کوی هره میاشت یی د کمیشن ۱۵ فیصده د گزارش سره یوځای د نوموړی شرکت څخه ترلاسه او اپرا ریاست ته مو استولی دي

**د مخابراتی شرکتونو په برخه کي:**

د خوسـت پـه ولایـت کـی پنځـه مخـابراتی شرکتونـه لکـه افغـان بسـیم ، روشـن ،MTN ، اتصـالات او افغـان تیلـی کـام فعالیـت کـوی چـه مجموعـا د (۲۰۶) انتنونـو پـه لگولـو سره د خوسـت ( ۱۱ ) ولسـوالي او ( ۳ ) اداری واحدونـه تـر خپـل مخـابراتی پوښـښ لانـدی راوسـتی او تقریبـآ د (۹۵٪) پـه حـدودو کـي ئي د خلکـو مخـابراتی سـتونزی ور حـل کړیدی .
د مشـتریانو د خـبرو پـه وخـت کـی د محرمیـت او مصئونیت مسئله پـه نظر کـی نیـول شـوی او پـه هکلـه شـکایتونو تـه رسـیدگي شـوی ده او د انتنونـو د امنیـت پـه تـړاو د نظـامی گـډی هماهنگـی شـورا تـه د ولایـت مقـام پـه غونـډو کـی گډون شوی دي .
د افغان تیلکام اړوند ستونزی مو د مرکز سره پروخت شریکي کړی دي

**افغان تیلی کام دیپارتمنت په برخه کې:**

۱- د سلام شبکه کی ۴۵ سایتونه لرو چی اووه ویشت (۲۷) یی 3G او اواتلس (۱۸) یی 2G دی د انترنیت او تیلفون خدمات وراندی کوی.

۱- د فیبر نوری فعال شبکه څخه صرف د انترنیت په برخه کی تقریباً میاشتنی ۲۵۰۰۰ امریکایی دالر غیر مستقیم عواید لرو او همدارنگه د خوست شیخ زاید پوهنتون او کمرک ریاستونو ته مو د فایبر نوری له لاری وصل کړی دی.

د MTN، روشن او اتصالاتو مخابراتی کمپنی ته هم انترنیت ورکړی ده او اکثر دولتی ادارات هم د فیبر نوری له لاری د Wi-max او PTP ټکنالوجی له لیاري له انترنیت څخه استفاده کوی او د سلام ټول سایټونه د نوري فایبر سره وصل شوی دي.

۲- د غلام خان بندر سرحد پوری مو له پخوا د فایبر نوری کیبل په اندازه د ۳۳ کیلومتره کار تکمیل کړی، د روان لړم میاشتی په لومړیو کې مو د غلام خان په سرحدي صفر نقطه کې د پاکستان هیواد د نوری فایبر سره و نښلول شو چې په نږدی راتلونکې کې به نوموړی لینک هم فعال شی، ددغه مسیر د نوری فایبر په فعالیدو سره به مونږ د خوست او ټولو جنوبي ولایتونو لکه خوست، پکتیا، پکتیکا، لوگر او حتي د مرکز په شمول د ټولو مرکزي ولایتونو لپاره د انټرنټ بک اپ یا پشتیبان ولرو مثلا که د کابل او لوگر په مسیر کې د نوری فایبر قطع شي مونږ به د نومړي فایبر په مټ بیا هم انټرنټ ولرو.

۳- د خوست ملی امنیت ریاست د فیبر نوری له لاری وصل شو.

د ولایت مقام ،اسان خدمت، د نوری فایبر سره د وصل په موخه سروی ترسره شوی اوملکی روغتون کارونه بشپړیدو ته نژدی دي.

لاندی لیسی د WI-MAX 4G تکنالوژی له لاری دانترنیت سره ونښلول شوي

۱- الفتح لیسه (ذکور).

۲- ذکورعبدالحی حبیبی لیسه.

۳- ملالی سعادت لیسه (ښځینه).

۴- آزادی مینه لیسه(ذکور).

۵- ورغه کلی لیسه(ذکور)

۶- کونډي کلی لیسه (ذکور)

د فایبر نوری کیبل له لاری لاندی اداری وصل شوي.

۱- ملکی روغتون کار مکمل شوی ده.

۲- مستوفیت کارونه یی مکمل شوی ده.

۳-نادر شاه کوت ولسوالی کندنکاری. پیپ اندازی او کیبل اندازی ODF نصب کول یی شوی صرف جاینت یی پاتی ده.

۴-دوه منده ولسوالی کندنکاری، پیپ اندازی او کیبل اندازی ODF نصب کول شوی صرف جاینت یی پاتی ده.

۵ -گربزو ولسوالی تکمیل شوی او د نوری فایبر سره وصل شوي ده.

۶- صحت عامه ریاست کندنکاری. پیپ اندازی شوی، کیبل اندازی، ODF نصب کول، جی ای پیپ او جاینت یی پاتی ده.

۱- د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی زوړ تعمیر په ۱۳۹۹/۸/۶ نیټه چې په خوست ولایت کې د ځانګړي ځواکونو په مرکز باندي د انتحاریانو او موټر بمونو ډیره سخته حمله وشوه چې له امله يې شاوخوا ساحاتو کې ډیر ویجاړی او تخریب هم رامنځ ته کړ، داچي زمونږ زوړ تعمیر هم نوموړي ساحي ته ډیر نژدی واقع دي ډیري ساحي يې تخریب یا ویجاړي شوی چي ترمیم او بیا رغاوني ته اړتیا لري

۲- پیشنهاد کیږی چه که چیری د سیم باکسونو د ځای د تعین او معلوملو په خاطر موقتآ دې ولایت ته وسایل راولیږل شی بهتره به وی .

۳- که چیری د اترا د محترمې اداري د طرزالعمل سره سم شرکتونه دې ته وهڅول شی چه د سیم کارتونو د خرڅلاو لپاره پخپله لاس په کار شی او غرفی ولګوی تر ډیره حده به د غیر قانونی سیم کارتونو د خرڅلاو مخه ډب شی او همدارنګه دخرڅلاو په غرفو کې دمشتریانو څخه دمخامخ عکس اخیستل او د اصلی تذګیری پربنا سیمکارتونه نوره توزیع کړی بهتره به وي.

۴- په خوست کې د مخابراتی شرکتونو دنماینده ګیو موجودیت ډیر اړین دي پدی اړه یوځل بیا پشنهاد کوو چه که چیری دمخابراتی شرکتونو نمایندګې دافغان بیسم او افغان تیلی کام په څیر فعالی اوموجودیت ولری دخلکو دمخابراتی ستونزو په حل کې به موثریت ولری.

۵- په لیری پرتوولسوالیوکې دمامورینو اوامتیازی معاشونوته که توجه وشي ددوی په تشویق اود چاروپه ښه پرمختګ کې به ښه اغیزه ولری.

۶- زموږد کارمندانودمسلکی پوهی دسطحی دلوړتیا اودماسټري او دوکتورا پرګرامونه په تدارک کې موعملآدهمکاری پشنهاد کوو.

۷- دا چه اکثره وختونو کې په ولسوالیو کې مخابراتی ستونزې رامنځته کیږی که چیری ددې ستونزو د لیري کولو په منظور د (۱۲) ولسوالیو په مرکزونو کې د سلام مخابراتی آنتنونه ولګول شي دستونزې په حل کې به موثر ګام وي .

۸- د خوست اداری کمپلیکس چه فعلآ پکی (۳۳) څخه زیاتي اداري او د ولایت مقام موقعیت لري د (CCN2) یا ډیجټل ټیلفون خدماتو او فایبر نوری له کیبل څخه محروم دي ـ احتراما پیشنهاد وو چه که چیری د پورتني ساحی ته د تیلیفونی او انترنیتی ستونزو په حل کې همکاری وشي بهتره به وي .

دادی په پورته توګه دخوست دمخابراتواومعلوماتی تکنالوژی ریاست د۱۴۰۰ مالی کال لومړي ربعی بشپړ کاری رپورټ ترتیب اود راتلونکو اجراآتو په منظوردرولیږل شو.

په درنښت

محمدعارف احمدزی

دخوست مخابراتواومعلوماتی تکنالوژی رئیس